## ساتندویه وسیلې
هغه ټول وسایل او امکانات چې د یوه مال د ساتنې لپاره کارول کېږي. دری: [وسایل تحفظی]

## ساتونکی
هغه شخص چې د ساتنې د عقد په موجب، یا د منازعې د دواړو خواوو ترمنځ د موافقې له مخې ورته د مالونو ساتنه او اداره د دعوی د حل تر وخت پورې د امانت په توګه سپارل کیږي. دری:[نگهبان]

## ساحق قانون
پخوانی قانون دی چې د هغې پرځای نوی قانون وضع شوی وي. دری: [قانون ساحق]

## ساده جرمونه
له هغو جرمونو څخه عبارت دي چې د هغو مادي عنصر له یوه واحد عمل څخه مینځ ته راغلی وي.
دری:[جرایم ساده]

## ساده ربحه
هغه ربحه ده چې یوازې له اصلي پیسو څخه اخیستل کېږي نه ددې پیسو نه د منځته راغلې ربحې څخه.
دری: [ربح ساده]

## ساده قوسي خطونه
له هغو خطونو څخه عبارت دی چې دګوتې د څنډې نه یو یا څو خطونه شروع کیږي د لارې په اوږدوکې د یوه قوس یا کمان په شکل د مسیر د تغییر څنې پرته د ګوتې مقابلې څنډې ته رسیږي. دری: [خطوط قوسی ساده]

## سادیسم
هغه رواني حالت دی چې له مخې یې شخص د نورو د ځورولو له لارې خوند اخلي. دری:[سادیسم]

## سازمان موندلي جرمونه
له یو ډله ییز عمل څخه عبارت دی چې یو موټی او متحد جوړښت لري او اساسي هدف یې د غیر قانوني فعالیت له لیارې د مادي منفعت لاس ته راوړل دي.
دری:[جرایم سازمان یافته]

## سالب ارتفاق
هغه ارتفاق دی چې د مجاور ملك خاوند (مرتفق علیه) د ځینو تصرفاتو حق په خپل ملك کې نه لري.
دری:[ارتفاق سالب]

## سَب
یوه فقهي اصطلاح ده چې مقدساتو او انبیاوو ته توهین او سپکاوی په کې وي. دری:[سَب]

## سبب
هر هغه شي چې غیر ته متوصل کېږي پرته له دې چې پر هغې تأثیر ولري. دری: [سبب]

## سبوتاژ
له عمدي خرابکارۍ څخه عبارت دی چې په کارخانو، کانونو، د پلونو له منځه وړلو، جادو او د دې په څېر نور چې د دولت د حاکمیت د کمزورۍ او عامه ګټو په موخه وي. دری:[سبوتاژ]

## ستراتیژی
هغه جامع او مکمل کړنلاره چې د یوې ادارې د اساسي موخو لپاره تدوین کیږي. دری: [ستراتیژی]

##ستره محکمه
هغه محکمه ده چې د لاندینی محکمو صادر شوي احکام د اعتراض په صورت کې د قانونیت له پلوه تر څېړنې لاندې نیسي. دری: [سترهٔ محکمه]

## سجل
هغې ليکنې ته ويل کيږي چې په مطبوع پاڼه کې ليکل شوې وي، په دفتر کې يې ثبت او ساتنه کيږي.
دری: [سجل]

## سخره
د اشخاصو استخدامول دي پرته له اجورې او قانوني مجوز څخه. دری: [سخره]

## سدس
د شيانو، مالونو او د مورث د متروکې يو پر شپږمه برخه ده. دری: [سدس]

## سر
هر هغه شی چې د هغه افشا د قانون مطابق جرم وګڼل شي. دری: [سر]

## سرانه ماليه
هغه ماليه ده چې د ټولو رشيدو اتباعو له هر يوه تن څخه اخيستل کيږي. دری: [ماليه سرانه]

## سرحدي خطونه
له هغو خطونو څخه عبارت دی چې په اوله مرحله کې په موازي شکل شروع کېږي له يوي انحناء څخه وروسته متفرق او يا د دوه يم ځل لپاره موازي کېږي چې د خطونو سرحدونه جوړوي.
دری: [خطوط سرحدی]

## سردستي وجه
هغه پيسې دي چې د جزيي او کوچنيو ورکړو لپاره واکمنو چارواکو او يا حقيقي اشخاصو ته ځانګړې کيږي. دری: [وجه سردستی]

## سرغړونه (تمرد)
هر راز سرغړونې چې د محکمې د وروستۍ پريکړې په وړاندې ترسره شي. دری:[تمرد]

## سرقت
د بل چا د منقول اومتقوم مال اخيستل دي په پټه توګه د محرز ځای څخه، يا په بل عبارت د بل چا د منقول او متقوم مال تښتول دي په پټه توګه د ځان کولو په نيت.
دری:[سرقت]

## سري محاکمه
هغه محاکمه ده چې په هغې کښې د قضيي رسيدګي په محرمانه توګه صورت نيسي او د دعوی له لورو پرته بل څوک پکې د حضور حق نلري. دری:[محاکمه سری]

## سری (پټه) تزکيه
هغه تزکيه ده چې د يوې ځانګړې پاڼې په واسطه چې مستورې په نامه ياديږي، د عدالت يا قبول د شهادت اړوند ترسره کېږي. (تذکيي ته دې مراجعه وشي).
دری: [تزکيه سری]

## سريع الفساد مالونه
هغه مالونه دي چې ژر خپل ماهيت له لاسه ورکوي يا ضايع کيږي او يا د ساتلو په صورت کې د لګښتونو غوښتنه کوي. دری:[اموال سريع الفساد]

## سفاتج
هغه پور دی چې پور ورکوونکی د هغه په وسيله د لارې له خطرونو څخه مصئون کيږي. دری:[سفاتج]

## سفارتخانه (سفارت)
يوه ټوټه خاوره يا يوه ټوټه ځمکه ده چې د قبلولو په هېواد کې واقع وي او ملکيت په هغه هېواد پورې مربوط وي چې د نوموړي هېواد سره سياسي روابط ولري.
دری: [سفارت خانه (سفارت)]

## سفاهت
صفت منسوب سفيه ته دی، يعنی تبذير يا د شتمنيو په ساتلوکې د لازمې وړ تياد نه لرلو پورې منسوب وي او د داسې يو صفت پورې د متصف شخص مالي واک تر حجر لاندې راتلای شي. دری:[سفاهت]

## سفته

هغه سند دی چې د هغه پراساس صادر وونکی تعهد کوي چې په ټاکلي وخت کې یا د غوښتنې په وخت کې د وجې د څښتن یا د ځانګړي کس او یا د هغه حواله کوونکی شخص ته تادیه کړي. دری: [سفته]

## سفلی ملکیت

پر یو مملکت باندې د یو حقیقي یا حکمي شخص د ملکیت لرل دي چې د هغه پورتنۍ طبقه د بل چا پورې مربوطه وي. دری:[ملکیت سفلی]

## سفلیس

هغه ناروغي چې عفوني او ساري وي او په ارثي او مادرزادي توګه افرادو ته لیږدول کیږي. دری:[سفلیس]

## سفه

هغه ډول حالت چې انسان ته وریه برخه او له امله یې شخص که څه هم پوه سړی وي د شرعي او عقل پرخلاف تصرفات او کړه وړه سرته رسوي. دری: [سفه]

## سفیر

د یوه هېواد سیاسي لیږدول شوی شخص دی چې د خپلو واکونو حدود په خپل اعتماد لیک کې معلوم او د قبلوونکي هېواد رئیس ته وړاندې کوي. دری: [سفیر]

## سفیه

سفیه یا غیر رشید هغه کس دی چې د خپلو مالونو او مالي حقوقو په اړه یې تصرفات د عقل له مخې نه وي، خپل مالونه بیځایه مصرف او د اسراف له مخې یې له منځه وړي. دری:[سفیه]

## سکوت

د وینا او بیان نه ډډه کول. دری:[سکوت]

## سکه

هغه فلزي قطعه ده چې پر مخ یې نقش، جمله یا علامه شتون لري او د دولت له خوا د قانون له حکمونو سره سم د چلند وړ پیژندل شوی او اعتبار ورکړل شوی وي. دری: [سکه]

## سکې رواجول

په جریان کې اچول او د راکړې ورکړې وسیله ګرځول چې د معاملو او د خلکو د کسب او کار د آسانتیا په موخه کیږي. دری:[ ترویج سکه]

## سلاح

غوڅوونکو او سوري کوونکو او ضرب واردوونکو آلاتو او ادواتو ته ویل کیږي. دری:[سلاح]

## سلبي تنازع

هغه تنازع چې دوه یا څو محکمې د یوې معینې دعوی په څیړنه کې په عدم صلاحیت حکم کوي پدې حالت کی ضروري ده چې د صلاحیت لرونکی محکمه وټاکل شي. دری: [تنازع سلبی]

## سلبي رشوت

که چیرې د مرتشي له خوا قبول صورت ومومي رشوت سلبي ګڼل کیږي. (رشوت ته دې مراجعه وشي). دری:[رشوت سلبی]

## سلبي سلوك

هغه چلند چې د فعل د ترک څخه صورت مومي. دری: [سلوک سلبی]

## سلطاني (قانوني) مرور زمان

هغه مرور زمان دی چې قانون یې وړاندوینه کړی وي. (مرور زمان ته دې مراجعه وشي). دری: [مرور زمان سلطانی (قانونی)]

## سلطه
پر شیانو، مالونو یا نورو اشخاصو، د شخص قانوني واک او اختیار دی. دری:[سلطه]

## سلف
پر هغه شخص باندې اطلاق کیږي چې په پخوا زمانو کې موجودو او یاېې اتفاق موندلی وي. دری: [سلف]

## سلفه
د اجل نه مخکې او یا د پور اجراء څخه مخکې ورکولو باندې اطلاقیږي. دری:[سلفه]

## سلم
له هغې بیعې څخه عبارت دی چې پکښې اوس مهال د مال مبادله په راتلونکي کې د مال په ورانديې، د هغه د قانوني او شرعي شرطونو په نظر کې نیولو سره ترسره شي. دری:[سلم]

## سلم اخیستونکی
هغه شخص دی چې په اوس زمانه کې د مبیعې ثمن د هغې د قبلولو په مقصد په راتلونکي زمانه کې سلم ورکوونکي ته ورکوي. (سلم ته دې مراجعه وشي). دری:[سلم گیرنده]

## سلم ورکوونکی
هغه شخص دی چې په اوس زمانه کې د مبیعې ثمن د هغې (مبیعې) د سپارلو په مقصد په راتلونکي زمانه کې له سلم اخیستونکې نه، ترلاسه کړي. (سلم ته دې مراجعه وشي). دری:[سلم دهنده]

## سم (زهر)
هغه ماده ده چې د کیمیاوي فعالیت له لیارې، د مرګ یا د عضوو د عادي فعالیت د اختلال سبب وګرځي. دری: [سم (زهر)]

## سمحاق
هغه جراحت دی چې د غوښې ځینې تېر شي او هډوکې ته ورسیږي. دری: [سمحاق]

## سملاسي دین
هغه دین دی چې مدیون هغه فوراً او په کامله توګه اداء کړي. دری:[دین فوری]

## سملاسی عقد
هغه ډول عقد دی چې پکې د دواړو خواوو وجیبې په سملاسي او یوځلي توګه ترسره کیږي.
دری:[عقد آنی]

## سنت طلاق
هغه طلاق چې درې ځلې یې په درېیو طهرو کې له جماع سره یو ځای صورت موندلی وي.
دری: [طلاق سنت]

## سنجش
د یو مالي عقد د مصارفو، عوایدو، زیادت او نقصان محاسبې کول. دری: [سنجش]

## سند
هره سند لیکنه چې د دعوی او دفاع په مقام کې د اعتبار وړ وي، سند بلل کیږي. دری:[سند]

## سني احسن طلاق
هغه طلاق دی چې په هر هغه پاکۍ کې چې پکښې یوځای کېدو صورت نه وي موندلی، یو طلاق واقع شي. دری:[طلاق سنی احسن]

## سوء استعمال
د یو شي یا یو حق استعمالول دي په داسې توګه چې د نورو د حقوقو د زیان سبب وګرځي.
دری: [استعمال سوء]

**سوء تصرف**

د یو شخص لـه داسې عمـل څخـه عبارت دی چې پـه عقـودو او تصـرفاتو کـې غـبن او ضـرر مـنځ تـه راوړي.
دری: [تصرف سوء]

**سوء قصد**

د شخص قصد او نیت چې د یوه دولتي او رسمي مقـام د وژلو پـه موخـه وي کـه دا قصـد سرته ورسيږي یـا ونـه رسيږي. دری: [سوء قصد]

**سوداګر**

هغه شخص چې تجارتي اهلیت ولري. په خپل نامه په یوه یا څو تجارتي معاملو بوخت شي او په دې کسب روږدی شي، سوداګر بلل کيږي. دری: [تاجر]

**سوداګري**

سـوداګري د ارزښـت لرونکـو کـالیو یـا خـدماتو راکـړه ورکړه د حقیقي او یا حکمي شخصیتونو تـرمنځ تـه ویـل کيږي. دری: [تجارت]

**سوداګري پاسپورټ**

هغـه پاسپورټ دی چې د سـوداګرۍ د چـارو د ترسـره کولو په مقصد د متبوع هېواد له خـوا نـورو هېوادونـو تـه هغه حقیقي اشخاصوته چې د سـوداګرۍ اهليـت ولـري د قانون لـه حکمونـو سره سـم د اړونـدو مراجعـو لـه خـوا صادريږي. دری:[پاسپورت تجارتی]

**سوداګریز اعمال**

هغـه اعمـال دي چې د قـانون لـه حکمونـو سره سـم د سـوداګرۍ د شخصـيتونو لـه خـوا ترسـره کيـږي.
دری:[اعمال تجارتی]

**سوداګریز بانك**

هغـه بانـک دی چې بنسټيزه دنـده يې د سـوداګريزو او انتفاعي مقصدونو لپاره د امانتونو او پورونـو اخيسـتل وي.
دری: [بانک تجارتی]

**سوداګریز برات**

هغه د تبادلې وړ بـرات دی چې د سـوداګريزو مـالونو د لېږدولـو رالېږدولـو ورکـړې پکښـې شـاملې وي.
دری: [برات تجارتی]

**سوداګریز پور**

هغه پورونه دي چې د عارضي اړتیاوو د پوره کولو لپـاره انتفاعي مؤسساتو ته ورکول کيږي. دری: [قرضه تجارتی]

**سوداګریز تعاون**

په یوه سوداګریز عمل کې همکـاري ده. (تعـاون تـه دې مراجعه وشي). دری: [تعاون تجارتی]

**سوداګریز سند**

عبارت له هغه سند څخه دی چې په سوداګریزو معاملاتو کې د اشخاصو (حقیقي وي او که حکمي) تـرمنځ تبادلـه کيږي. دری: [سند تجارتی]

**سوداګریز شریك**

هغه شخص چې له بل شخص یا اشخاصو سره د یوه عقد (تړون) پر مبنأ او د تجارت د حقوقو د قواعدو پـر اسـاس د ګټـې د لاسـته راوړلـو پـه موخـه، شـراکت ولـري.
دری: [شریک تجارتی]

**سوداګریز عقد**

هغه عقد دی چې د دوو سوداګرو او یا د سوداګرو اویوه بل شخص ترمنځ وتړل شي. دری: [عقد تجارتی]

**سوداګریز کلنۍ رپوټ**

عبارت له هغه رپوټ څخه دی چې پـه هغـه کـې کلنـۍ فعالیت، مصرفونه، ګټې او تاوانونه عمومي مجمع یا مدیره هیئت ته وړاندې کيږي. دری: [راپور سالانه تجارتی]

**سوداګریز واحد مدیریت**

هغه حالت دی چې یو شخص په دوو یا زیـاتو شـرکتونو کې د مدیر په توګه مؤظف وي.
دری: [مدیریت واحد تجارتی]

## سوداګریزه دعوی
هغه دعوی ده چې مبناء او موضوع يې تجارتي معاملات وي. دری: [دعوی تجارتی]

## سوګند
په مدني دعوی کې د اثبات له وسيلې څخه عبارت دی چې د محکمې په وړاندې په خپله نفع او د بل په ضرر په مخصوصو لفظونو سره اجرأ کيږي. دری:[ سوگند]

## سهامي شرکت
سهامي شرکت هغه شرکت دی چې د هغه سرمايه په سهمونو وېشل کيږي او د سهمونو د خاوندانو مسووليت د هر سهم لرونکي د سهم په پرتله ټاکل کېږي. دری: [شرکت سهامی]

## سهم (ونډه)
سهم هغه قيمت لرونکی سند دی چه د هغه په اساس د هر يو شريك ونډه (حصه) د شرکت په سرمايه کښې ټاکل کيږي. دری: [سهم]

## سهم لرونکی
هغه شخص (حقيقي يا حکمي) ته ويل کېږي چې په شرکت کې د سهم يا اسهامو څښتن وي. (سهم ته دې مراجعه وشي). دری: [سهم دار]

## سهم لرونکی مدير
هغه مدير يا رئيس دی چې په يو سهامي شرکت کې په عين حال کې، د شرکت يو مهم سهم لرونکی هم وي. دری: [مدير سهم دار]

## سياحتي پاسپورټ
هغه عادي پاسپورټ دی چې د يو شخص لپاره بهرته د سفر په مقصد، د قانون له حکمونو سره سم صادريږي. دری:[پاسپورت سياحتی]

## سياسي آزادي
هغه حق دی چې د هغه په سبب هر فرد په خپله اراده او رضا د بل د مداخلې پرته په آزاده توګه د قانون له حکم سره سم انتخاب شي او انتخاب وکړي
دری: [آزادی سياسی]

## سياسي پاسپورت
له هغه رسمي او مشخص سند څخه عبارت دی چې د نړيوالو موازينو سره سم د اړوندو مراجع له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادريږي. دری:[پاسپورت سياسی]

## سياسي جرمونه
ټول هغه عملونه او اقدامات چې د هغو هدف د موجوده حاکم نظام چپه کول وي. دری: [جرايم سياسی]

## سياسي زنداني
هغه شخص چې د يوه سياسی جرم د ترسره کولو په خاطر محبوس شوی وي. دری: [زندانی سياسی]

## سياسي مرکب جرم
هغه جرم چې د مادي رکن له نظره په عمومي جرمونو پورې اړوند وي او د معنوي نظره له هغې موخې سره چې په ارتکاب کې يې نغښتی ده، په سياسي جرمونو پورې اړوند دی. دری: [جرم مرکب سياسی]

## سيال پور
د لنډې مودې له هغو پورونو څخه عبارت دی چې د بودجې د مؤقتي کسر د جبران په غرض د بودجې د تطبيق په بهير کې د عوايدو او لګښتونو د نوساناتو له امله منځ ته راځي او د يوې معينې (ټاکل شوې) مودې لپاره اخيستل کيږي. دری:[قرضه سيال]

## سيمه ييز تحقيق
هغه تحقيق چې د تحقيق مسوولين يې، د جرم د ترسره کولو په سيمه او يا د مدرکونو د پيدايښت په سيمه کې تر سره کوي. دری: [تحقيق محلی]

## سیندیز یا سمندري ثابت تأسیسات

هغه ساحه یا جوړښت (ساختمان) چې په دایمي توګه په سیند یا سمندر کې د هغه له تل سره جوخت، د سرچینو د تفحص او استخراج او یا نورو اقتصادي مقصدونو لپاره جوړېږي. دری:[ تاسیسات ثابت دریایی یا بحری]